**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانگه**

**د متحدالمآل گڼه: ۱۴ نېټه: ۳۰/ربیع الأول/۱۴۴۵ هـ ق | مصادف: ۲۳/تله/۱۴۰۲ هـ ل**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**و بعد:** په ۱۹/ربیع الأول/۱۴۴۵ هـ ق نېټه، چې ۱۲/تله/۱۴۰۲ هـ ش نېټې سره برابره ده، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا د ۱۴۴۵ هـ ق کال شپږم مجلس د قاضي القضاة او د سترې محکمې د رئیس صاحب په مشرۍ دایر شو، چې د یاد مجلس د اجنداء شپږمه موضوع داسې وه: ((د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون د ۱۴۴۵/۲/۵ هـ ق نېټې د (٦٣٧ پر ۴٦١) گڼه لیک، د ۱۴۴۵/۲/۱۸ هـ ق نېټې د (۹۵۹ پر ٦٨٠) گڼه لیک او د ۱۴۴۵/۳/۱ هـ ق نېټې د (۱۲۰۹ پر ۸۳۱) گڼه لیک په ذریعه لیکلي دي چې لنډیز یې په لاندې ډول دی: د ولایتونو تخنیکي پلاوي د اړونده ولایتونو له استیناف محکمو څخه د ځینو قبالو، وثیقو او ترکه خطونو د صحت او سقم په هکله معلومات غواړي، خو ځینې استیناف محکمې د سترې محکمې د دارالأنشاء د عمومي ریاست د ۱۴۴۴/۱/۹ هـ ق نېټې د (۱) گڼه متحدالمآل په استناد یادو تخنیکي پلاوو ته اړونده معلومات نه ورکوي.

په داسې حال کې چې د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون د لایحې د دویمې مادې درېیمه فقره داسې صراحت لري: (د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د دارالأنشاء عمومي رئیس او د چارو اداري لوی رئیس مکلف دي چې د کمېسیون د سپارل شویو چارو پر مخ بېولو کې هراړخیزه همکاری وکړي.) همدارنگه د یادې لائحې اومه ماده داسې صراحت لري: (والي، ولسوال، د وزارتونو مسئولین او امارتي اداري مکلفې دي چې د امارتي (سلطاني) غصب شویو، عامه مرعی او وقف شویو ځمکو په تشخیص او تثبیت کې له کمېسیون او تخنیکي پلاوي سره هر اړخیزه همکاري وکړي.) له همدې کبله یې غوښتنه کړې وه چې ټولو محکمو ته دې هدایت وکړل شي چې په ولایتونو کې د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون تخنیکي پلاوو سره هراړخیزه همکاري وکړي.))

د سترې محکمې عالي شورى محترم مقام د ۱۹/ربیع الأول/۱۴۴۵ هـ ق نېټې، چې ۱۲/تله/۱۴۰۲ هـ ل نېټې سره برابره ده، د (۷) گڼه تصویب د شپږمې پرېکړې پر بنسټ د پورتنۍ موضوع په هکله هدایت وفرمایه چې بشپړ متن یې په لاندې ډول دی:

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ځینې ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د پاره لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

(د ټولو ولایتونو د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون اړونده تخنیکي پلاوي دې د اړونده ولایت له استیناف محکمې څخه د قبالو د ثبت محفوظ په تړاو د معلوماتو غوښتنه د لیک په ذریعه کوي او د استیناف محکمې دې یاد تخنیکي پلاوي ته یوازې د قبالو د ثبت محفوظ په هکله معلومات وړاندې کوي)

البته د قبالو د صحت او سقم په اړه دې معلومات پخپله د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد ځانګړې محکمې وغواړي.

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورا د محترم مقام پورتنی لیکلی هدایت د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شو تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجراآت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس**